مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باش

عبدالوهاب باور
۲۰۲۶/۰۳/۰۱

# د پاکستان کرايي پوځ

## (لومړی برخه)

دا یو څرګند حقیت دی چې پاکستان یو تاریخي واقعیت نه، بلکې د استعماري تاقتونو د ستراتیژیکو موخو د عملي کولو په خاطر په ۱۹۴۷کال کې د استعماري انګلیس له لورې جوړ شو او بیا وروسته له امریکا سره د نظامي تړون له مخې د پورتنیو هیوادونو د ستراتیژیکو موخو او رقابتونو د عملي کولو په خاطر چې په سیمه کې تري ګټه پورته کړي په ډېره کمه موده کې یې په سیمه کې په یو ځواکمن نظامي ځواک بدل کړ چې د اتومی وسلو د لرلو تر کچې ورسید.

پنجابي واکداران او د هغوي جوړ شوی پوځ تل د غرب او امریکا د ګټو له پاره هڅې کړي د انګریزانو او امریکا په اشاره یې په سیمه او خاص ډول زموږ په ګران هیواد افغانستان کې د یو ځواکمن افغانستان د جوړیدو مخنیوی کړی او د هرډول خائنانه توطیو او دسیسو نه یې کار اخیستي دی.

د پورتني مطلب روښانه بیلګه د پنجاب په پارلمان کې د پاکستان د دفاع د وزیر خواجه اصف څرګندوني د امریکا د پالیسیو په هکله چې وایې:

«له روسانو سره جګړه زموږ نه وه، موږ امریکایانو استعمال کړو او د یوه کرايي پوځ په توګه مو عمل وکړ او دوې لسیزې مو ځان امریکا ته په کرایه ورکړ، صرف د دې له پاره چې پرویز مشرف د امریکا حمایت ته اړتیا درلوده».

امریکا، غرب او اسرائیلو په سیمه کې د خپلو ستراتیژیکو موخو د عملي کولو په لار کې د اسلام په نوم له دغه مرتد پنجابي حکومت او نظامي جرنیلانو نه هر ډول ګټه تر لاسه کړي او کوي یې.

د پاکستان پوځي رژیم د اسلام له نوم څخه تل ناوړه استفاده کړی ده، نو ځکه باید د پاکستان ولس، سیاسیون او نوره اسلامي نړی په دې پوه شي، چې د پاکستان حاکمیت (پوځي رژیم او آی اس آی) په بېلابېلو نومونو او طریقوغوارې اسلامي نړی تخریب کړي. لیدل کېږي چې د پوځ مشر عاصم منیر د امریکي ولس مشر ترمپ او نتنیاهو ته سینه و ډبوله، چې د غزې د لا نور تکولو له پاره به غزې ته ځواکونه لیږي، چې په دې هکله یې له صهیونیستی اسرائیلي اداري سره لیدنه کتنه کړی او د نتنیاهو په مشری یې د اسرائیلو مرکز تل ابیب ته سفر کړی دی، چې دغه سفر یې په ښکاره ډول له مسلمانانو، اسلامي نړی، د پاکستان له عامو مسلمانانو، د غزې له مظلومو خلکو، ماشومانو، ښځو او شهیدانو سره د څرګند خیانت په معنا دی.

د پاکستان عام مسلمانان دې په دې پوه شي چې د پاکستان پوځي رژیم په مکمل ډول خرڅ شوي او په سیمه کې د کرايي پوځ رول ادا کوي، پاکستان د نړی د استعماري هیوادونو د فرمایشاتو مرکز ګرځېدلی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

ټولو ته جوته ده، چې له افغانستان نه د امریکا د بې شرمانه تیښتې او ماتې وروسته ټرامپ څو واره په افغانستان کې د امریکا د پاتې شوو وسلو د تر لاسه کولو او یا د بګرام د هوایي اډې د لاسته راوړلو غوښتنه تر سره کړه، خو په ځواب کې یې طالبانو جدي غبرګون وښود او تر څنګ یې د بګرام په هکله د ټرامپ د غوښتنې په اړه په نړیواله سطحه چین او روسیې هم خپلې اندیښنې څرګندې کړې.

ویل کېږي چې د پاکستان د وزیر اعظم شهباز شریف او د پوځ مشر عاصم منیر په سفرونو کې شاید دونالډ ترمپ دوی ته له طالبانو سره د جګړې مشوره ورکړې وي.

له بله پلوه پاکستان هیڅکله په افغانستان کې، غښتلی نظام، اقتصادي پرمختګ، سوله او امنیت نه غواړي. اوس چې طالبانو په دغو برخو کې په لاسته راوړنو لاس پورې کړی پاکستان ته د زغملو وړ نه ده، نو ځکه یې د (ټي ټي پي) موجودیت په افغانستان کې پلمه وګرزوله او په نړیوالو ستیجونو کې یې نارې سورې پیل کړې، چې په افغانستان کې تیروریستي ډلې د داعش او ټي ټي پي په ګډون شتون لری.

طالبانو وار، وار دغه تورونه رد کړل او ویې ویل، چې د افغانستان نه هیڅ یوه هېواد ته خطر نه شته او د پاکستاني خوا دغه تورونه یې د هغه هیواد کمزورتیا او د امنیت په ټینګولو کې پاتې راتلل وښودل.

ولیدل شول چې د پاکستان د پوځي غلطو پالیسیو له امله د عمران خان زنداني کیدل، د پي ټي ام ، بلوڅو ازادي غوښتونکو، ټي ټي پي د مبارزو او مشروع غوښتنو په مقابل کې د زور، جبر او غیرعادلانه سیاستونو د عملي کیدو له امله ولسونه راویښ شوول په خاص ډول بلوڅو او ټي ټي پي په نظامي عملیاتو لاس پورې کړ، کله چې د ټي ټي پي له لورې د پاکستان په بیلا بیلو برخو کې په نظامي تاسیساتو چاودنې او حملې زیاتې شوې او دوي یې کنترول له لاسه ورکړ، نو ځکه یې د خپلې کمزوتیا د پټولو په خاطر، تالبان پلمه کړل چې ګویا ټي ټي پي په افغانستان کې مرکزونه لري او له هغه ځایه راالیږل کېږي او دلته تخریبي فعالیتونه کوي.

دغه ترینګلتیا چې له ډېرې مودې یې دوام درلود د پاکستان د جرنیلانو د بې محاسبیې سیاست له امله په جګړه واوښت او پر همدې بانه یې د هېواد هوایي حریم نقض کړاو پر سپین بولدک، پکتیا او کابل یې هوایي بریدونه تر سره کړل، چې په دغه بریدونو کې یوازې ملکي کسانو ته چې د کریکټ لوبغاړي هم په کې شامل وو مرګ ژوبله واوښته او د پاکستان دغه تور چې ګویا د ټي ټي پي مرکزونه په افغانستان کې دي غلطه ثابته شوه.

طالبانو هم د دغو حملو په مقابل کې په تورخم، سپین بولدک او د دیورند د فرضي کرښې په ځینو برخوکې تعرضی عملیات پیل کړل او د دښمن ځنې پوستې یې ونیولې یو شمېر نظامیان یې ووژل، ژوندي یې ونیول او دښمن ته یې غاښ ماتونکی ځواب ورکړ، همدا ډول یو شمېر وسایل سلاح او مهمات یې د ټانکونو په ګډون غنیمت کړل او پاکستانیان دې ته اړ شول چې له قطر او ترکیې نه وغواړي چې د جګړې د مخنیوي په خاطر منځګړیتوب وکړي.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ